مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد عارف رسولي

۲۰۲۲/۰۴/۱۴

# د عامه دولتي سکتور او خصوصي سکتورونو مشارکت، اړتیاوې او ګټې یې

## سریزه

دوه لسیزې مخکې، دولتونو د خصوصي سکتور د کار لپاره کومه مهمه ستراتیژي نه لرله، زیاتو په زیربنایي پروژو کې په عامه سکتور تینګار کاوه، يو شمیر نورو فکر کاوه چې دولتي او خصوصي سکتور باید سره سیالي وکړي، خو کله چې قوانین سم پلي نه شي، د دولتي سکتور یو شمیر اجنسی په خپل سکتورکي د رقیبو خصوصي کمپنیو سره مرسته نه کوي بلکه خپل حریف یې بولي او به زیاتو شرایطو کې یې په ځانګړي ډول په هغو هېوادونو کې چې د قانون حاکمیت کمزوری او فساد زیات وي، د کار مخه نیسي، لاسته راوړنې یې تحریفوي، په شفافه توګه د ستونزو راسپړل ممکن نه وي. بله ستونزه دا وي چې دولتي اداري هم د ځان په ګټه کې د منافعو د ټکر (Conflict of Interest) له کبله سمه دنده نه شي تر سره کولی، یعني په خپلو تیروتنو خاوری اړوي، دا د انسان او انساني سازمانونو خاصیت دی، نو د نظام جوړښتونه او قوانین باید د دې کمښت مخه ونیسي او په نظام کې باید د چک (ارزوني) او توازن راوستلو سیستم شتون ولري. د دې ښه مثال په دولت کې د دریګونو قواوو شتون او د محاکمو استقلال دی، تر څو یو د بل به کړنو قضاوت وکړي، نو ځکه پخوا د خصوصي سکتور پانګه په زیربنایي کارونو کې کمه کارېدله.

خو اوس ګورو چې په دولتي سکتور تکیه کوونکو له چین، روسیې، د شرقی اروپا هېوادونو، ترکیې او زیاتو نورو ملکونو د خپل خصوصي سکتور په مرسته په زیربنایي برخو کې زیات پرمختګ کړی دی. په دې کې شک نشته او تجربو ثابته کړې چې کله خصوصي سکتور ورتیا، تخصص او پانګه ولري، او په رښه توګه د قوانینو او مقرراتو په رڼا کې د دولتي سکتور په مشرې سره په زیربنایي پروژو کې پانګونه وکړي، د هېواد د ابادی او پرمختګ لپاره پانګه، مدیریت او عمومي ورتیا ځو ځلي زیاتیږي. دا چې ځنګه دا کار ممکن شوی لاندې به وربانديې بحث وکړو.

د دولتي یا عامه سکتور او خصوصي سکتور ګډ کار او مشارکت په افغانستان کې خورا زیات مهم دی، ځکه چې موږ د پانګې له کمښت سره مخ یو او د مدیریت، په پروژو کې د خطرونو د ویش او اغیزمنتوب په تولو ساحو کې ستونزې لرو.

په دې لیکنه کې به د عامه (دولتي) او خصوصي سکتور په مشارکت خبرې وکړو.

## لنډیز

د د دولتي (عامه) او خصوصي سکتورونو تر منځ د مشارکت **مسئله نن سبا نړیوال اهمیت مومي په یو څو کلونو کې وربانديې لګول شوې پیسي له میلیاردونو ډالرونو و تریلیونونو ډالرو ته اوښتې** ده. خو دا یوه **پیچله مسئله هم ده او زیاتې هڅې غواړي تر څو په یوه هېواد کې دا روښ برپالی شي**. نو په نړیواله کچه د زیاتو څېړونکو او پلي کوونکو لپاره د دې مشارکت د **« بریا مهم عوامل»** د علاقې وړ مسئله ده.

په دې مشارک د ۱۹۹۰ ام کال راهیسې زیاتې څېړنې شوې دي، تر تولو زیات پېژندل شوې د بریا مهم فکتورونه د <u>**خطر تخصیص او شریکول، د خصوصي سکتور قوي کنسورشیم (اتحادیه)، د دولت قوي سیاسي اراده او مرسته، د تولنې او عوامو تایید او شفافه تدارکات دي.**</u> څېړنو ښودلې چې استریلیا، انګلستان، چین او هانګ کانګ د زیاتو څېړونکو لپاره د زیاتو مطالعاتو او څېړنو په مرکز کې و تر څو د دې مشارکت لپاره د بریا تر تولو زیات مهم عوامل ومومي. همدارنګه، د څېړنو غوره او اختیار شوې روښونه  د ځانګړو کیسونو ( پروژو) مطالعه، د سوالنامې او



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په څیر و لولئ

سروې مخلوط میتودونه وو. موندنو د بریا د مهمو عواملو یو مجموعي انځور وړاندې کړی تر څو په راتلونکي وخت کې د پلي کولو سره مرسته وکړي. تر دې وراخوا، د بریا د مهمو عواملو یو چک لیست ته وده ورکړل شوې، چې کیدی شي د لا زیاتو مشاهداتي مطالعاتو لپاره اختیار شي او ورنه کار واخیستل شي.

تعریف

د خصوصي سکتور د یوه واحد او د یوې دولتي ادارې تر منځ یو اوږدمهاله قرارداد دی، تر څو عامه دارایي یا خدمات رامنځته او وړاندې کړي، په کوم کې چې شخصي کمپنۍ د ملاحظې وړ خطر او د مدیریت مسؤلیت قبلوي، او اجوره یې په اجراآتو پورې تړاو لري.

**پس منظر**

## د عامه یا دولتي سکتور او خصوصي سکتور د مشارکت سابقه

**د ۲۰۰۸-۲۰۰۷ کالونو تر مالي بحران وروسته د دولتي او خصوصي سکتور تر منځ د مشارک پالیسۍ لپاره په نړیواله کچه په دواړو پرمختللو او مخ پروده هېوادونو کې زیاته لېوالتیا رامنځته شوې ده. زیات حکومتونه نن سبا په ټوله نړۍ کې هڅې کوي چې د خصوصي سکتور تخصص او پانګې ته لاسرسی ومومي تر څو د خپلو زیربنایي سکتورونو د بودیجې کسر (کمښت) جبران کړي**؛ په دې اړه څېړونکو هم په نړیواله کچه هڅې پیل کړې دي چې د دې حساسې پالیسۍ په پلي کولو او عملي کولو کې څېړنې وکړي ( چان، او نور.، ۲۰۱۰، چیونګ، او نور.، ۲۰۱۲، ګریمسي او لیویز، ۲۰۰۲). د دې څېړونکو خپرو شویو موادو پلي کوونکي او نوي څېړونکي دواړو ډلو ته توان ورکړی دی چې په دې پالیسۍ باندې لا نور زیات نظریات راټول کړي ( الشریف او کاکا، ۲۰۰۴).

له نویمې لسیزې راهیسې په دې مشارکت کې زیاتېدونکې علاقه د دې لامل شوې ده چې په زیاتو اړخونو یې زیاتې پلټنې او تحقیقات وشي؛ **<u>د خطر مدیریت، د اړیکو مدیریت، له مالي پلوه مناسب والی او تدارکات هغه ساحې دي چې تول په نړیواله کچه زیات څېړل شوې دي.</u>** په تیره لسیزه کې هغه مسئله چې د زیاتو څېړونکو پاملرنه یې ځانته راواړوله د عامه او خصوصي سکتور د مشارکت د « بریا مهم عوامل» وو. دا د ۱۹۹۸ تر ۲۰۰۸ پورې له مطالعې رابرسیره شوې ده.

**د دې مشارکت د بریا په عواملو کې زیاتې موندنې په دولتي لاربنوونو او مقرراتو کې ورزیاتې شوې دي**، ترڅو ځایي پلي کوونکي په دې هکله په تر ټولو غوره لارو خبر کړي چې وکولی شي اړونده پروژې سمې مدیریت کړي. همدارنګه، موندل شوې ده چې به تدریجي توګه **د علاقې زیاتوالی د ملکونو له ځانګړو « بریا له عواملو» څخه و تر ټولو غوره نړیوالو فعالیتونو او کړنو ته اوښتي ده.** په وروستیو ۲۳ کلونو کې چې دا ډول مشارکت رامنځته شوې پنځه تر ټولو زیات راپور ورکړل شوي د « **بریا فکتورونه** » عبارت دي له: **<u>د خطر تخصیص او ویش، د خصوصي سکتور قوي اتحادیې، سیاسي ملاتړ، د ټولنې / عامه ملاتړ، او شفافه تدارکات</u>.** په دې هکله ترټولو غوره د څېړنې میتود د «کس سټډي» یا د خاصو حالاتو او پروژو مطالعه او د اړونده هېواد شرایط دي، تر څو د بریا فکتورونه وموندل شي.

د عامه او خصوصي سکتور مشارکت (Public Private Partnership, PPP) په مختلفو ډولونو د څېړونکو او پلي کوونکو لخوا داسې تعریفیږي چې هر تعریف له یو بل څخه یو څه توپیر لري ( ابادي او هاوکرافت، ۲۰۰۴، کېتري او ماندري پېروت، ۲۰۱۱). دا مشارکت د **خصوصي سکتور مهارتونه او د مدیریت تخصص کاروي داسې چې موږ د عامه سکتور زیربنایي پروژې تیارې او پلي** کړو ( سکایتریس، ۲۰۰۸). په حقیقت کې، د تدارکاتو دا ډول روښ د زیربنایي پروژو د سرته رسولو یو غوره میتود رامنځته کوي تر څو د پیسو لپاره ارزښت (Value for money) تر لاسه کړو او همدارنګه، د رقابتي وړاندیزونو (آفرونو)، د نرمو او تطبیقي مذاکراتو له ترکیبه او د شریکانو تر منځ د خطر مناسب ویش ته لاره پرانیزي (اکینتای او نور، ۲۰۰۳). د دې مشارکت له پرژو حکومتونه اوس د اقتصاد په نورو سکتورونو تمرکز کولی شي ترڅو د زیربنا ودې او انکشاف ته لاره اواره کړي (کومنګ، ۲۰۰۷).

دا شاخصونه رابنیي چې څنګه څېړونکي په نړیواله کچه علاقه لري چې د دې مشارکت د پروژو د پلي کولو لپاره تر ټولو غوره لارې را وسپړي. که څه هم شک نشته چې د دولتي او خصوصي سکتورونو د مشارکت مسئله په نړیواله کچه د محققینو لپاره د علاقې وړ موضوع وي، ځکه دا مارکېټ پراخیږي او پوخوالي ته رسیږي. که څه هم د دې سکتور د « **<u>بریا په عواملو</u>** » موندلو کې زیاته علاقه شته، خو بیا هم د اړتیا سره سمه نه ده. نو ځکه زیاته ارزښت لرونکي خبره ده چې د دې مشارکت د « **<u>بریا د عواملو</u>**» په هکله د شته خپرو شویو موادو یو سیستماتیک او ژوره بیا کتنه وشي، ترڅو د یادو پروژو د تر ټولو ښه پلي کولو تر ټولو غوره لارې چارې دواړو پلي کوونکو او څېړونکو ته په ګوته شي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de

یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

د دې مشارکت مهم خاصیت د شریکانو ترمنځ د خطر شریکول دي ( کي او نور، ۲۰۱۰الف، ۲۰۱۰ ب). د نورو تدارکاتي میتودونو خلاف، د دې مشارکت په ترتیباتو سره، خطرونه په زیات غور او دقت سره تشخیص او هغو شریکانو ته تخصیص کیږي چې د یادو خطرونو د جبرانولو او مدیریت ښه تدابیر ولري (لي، او نور، ۲۰۰۵). تر دي وراخوا، دا مشارکت د دولتي ادارو او خصوصي سکتور د اتحادیو تر منځ د خپل تر ۱۰ کاله زیات اوږدمهاله اړیکو له کبله پیژندل شوی دی، نو ځکه د اغیزمنو عملیاتو لپاره د دوی تر منځ یوه ټینګه او دوام لرونکي اړیکه اړتیا ده ( میدلټن، ۲۰۰۰). په دې سکیم کې، هر ګډونوال یو څه منابع له ځان سره مشارکت ته راوړي چې کیدی شي، مادي یا غیر مادي وي ( اکینتوی، او نور، ۲۰۰۳).

## په افغانستان کې یې مثالونه

په افغانستان کې دا نوي نوښت و، یوازې د پروژو په جوړولو او ددوارو سکتورونو تر منځ د مشارکت په هکله د پوهاوي په قوانینو او مقرراتو کار کیده. همدارنګه، د کجکي د بند د پروژې انکشاف چې د یوې ترکي کمپنی سره یې قرارداد و، په بلخ او جوزجان ولایتونو کې له غازو د دوو خصوصي کمپنیو سره په مشارکت د برښنا تولید و.

**د دولتي او خصوصي سکتور د مشارکت لپاره وړ پروژې څنګه وټاکو؟**

دا پروژې په نړیواله کچه تر نورو هغو سکتورونو چې په عامه سکتور کې یې تدارکات تر سره کیږي زیاتي پیچلي دي او وار له مخه د پروژې د انکشاف لګښتونه پوره کول غواړي چې کیدای شي ننګونکي خبره وي. نو دولتي اداري، له همدې کبله، غواړي تر کومه چې امکان لري په هره پروژه پوه شي، مخکې له دې چې زیاتي وخت نیوونکي مطالعې، د پروژو ساختار جوړول او تدارکات رامنځته کړي او دا اړینه کوي چې د پروژو د انتخاب لپاره د غوره تخنیکونو او میتودونو ته انکشاف ورکړي.

په لمړیو پړاوونو کې د عامه او خصوصي سکتور د پروژو چڼ کول په مختلفو هیوادونو کې رابښیي چې د فکتورونو یو مخلوط د بریا ترلاسه کوي، زیات وختونه د پالیسي جوړوونکو او تخنیکي کسانو لپاره ستونزمنه وي چې د په بریالیتوب سره د نور انکشاف لپاره ښې پروژې په لمړي سر کې غوره کړي. یوازې ټوله پاملرنه و هغو معیارونو ته ورګروزول چې چې په مقدار ولاړ وي، په وروستیو کلونو کې یې، ښې پایلې نه لرلې او اړتیا ولیدل شوه چې په کیفیت ولاړو معیارونو او اړخونو ته هم مراجعه وکړي. د چڼ کولو میتودولوژیګاني د هیوادونو د پالیسیو او د تمرکز په ساحو راڅرخیدلي. که څه هم هیوادونو د پروژو د چڼ کولو لپاره مختلفي میتودولوژیګاني کارولي، خو ټولو یې یو شمیر ګډ اصول پیروي کړي. دې پایلو د پروژو د چڼ کولو، انتخاب او انکشاف لپاره یو ابزار رامنځته کړی چې (Project Screening and Analytics Tool (PSAT)) بلل کیږي او د نړیوال بانک د « <u>**زیربناوو د تمویل، د عامه او خصوصي سکتور د مشارکت او تضمین ګروپ**</u>» ، رامنځته کړی دی.

دا ابزار چې مخفف یې پورته وښودل شو او (PSAT) بلل کیږي چې د یو چک لیست په توګه، د پروژې په هره مرحله کې مخکې د تدارکاتو څخه، کارول کیدی شي تر څو د پروژو مناسبوالی څوندي شي.

## تشریح

دا د پوهي شریکولو او د پروژو د چڼ کولو او د لمړیتوب لرونکي پروژو انتخاب چې د عامه دولتي سکتور او خصوصي سکتور د مشارکت لپاره مناسبي وي، یوه پروسه ده. دا تشریح باید د څلورو تیمتیک ساحو په شاوخوا را وڅرخي:

- د پروژو د چڼ کولو لپاره استدلال او منطق
- د PSAT په مرسته د پروژو چڼ کول
- د مشارکت په لیست کې پروژو لمړیتوب ټاکل
- د چڼ کولو پروژه ښنتیزه (نهادینه ) کول تر څو ښه او غوره مشارکت رامنځته او بریالی شي

دا کیدی شي په څلورو غونډو کې تشریح شي، چې موضوعات به، د چڼ کولو په هکله د پوهي شریکول وي او همدارنګه چې ګډون کوونکي د پورته یاد ابزار (PSAT) په کلیدي عناصرو پوه شي.

نور بیا...



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de

یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ